# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

فرهاد ویاړ
۲۶ جولای ۲۰۱۳

## احمد شاملو،
## د تعهد او ژمنتیا مبارز شاعر

احمد شاملو، د ایران نامتو مبارز او انقلابی شاعر، هغه شاعر چې شعر یې لکه چاړه د غلیمانو پر ورمیږ راکاږله، لس کاله د مخه د اسد په دویمه نیټه سترګې له نړۍ پټې کړی. هغه ویل چې ژوند په شرمناکه توګه لنډ دی او ډیر کارونه دي چې باید یې وکړي. هغه ډیر کارونه وکړ ل، دومره کارونه چې د فارسي ژمن ادبیات یې هسکو ته ورسوه، هغه ادبیات چې د انسان لپاره پنځول کیږي، انسان ته د تعهد لاره انځوروي، انسان ته د ګډ درد فریادول ورزده کوي، انسان ته پیغام ورکوي چې د هغه ورځ لپاره دې مبارزه وکړي، هغه ورځ چې تر ټولو کوچنی سرود ښکلول وي.

د احمد شاملو ژوند ځمکنی ژوند او شعر یې هم همداسی و. هغه مین و، په آیدا مین و، خو دا مینه انساني مینه وه. د دې میني ورمه د برابری او عدالت، د آزادی او خپلواکی په پسرلي کې د ستمځپلو انسانوو پر مړاو ځیرو لګیدله، د شاملو د کوچني کور له پنجرو څخه یې عطر د هغو انسانانو جونګړو ته الوتو چې په دربدری او بدمرغی کې ژوند کاوه.

شاملو، خپل رسالت او دنده تر سره کړه؛ هغه، حمیدي د خپلو شعرونو په پولادي کلیمو سره له فرق څوړند کړ او داسي پر ځمکه وویشت چې په خپلو ګنده بویناکه مصرعو کې ککړ شو او نور یې د پاڅیدلو جرئت ونکړ. هغه له ویکتورخارا سره، له پابلو نرودا سره، له لنګستن هیوز سره، له مارګوت بیګل سره، له فدریکو ګارسیا لورکا او نور ژمنو او مبارزو شاعرانو او لیکوالانو سره د آزادی، برابری او سوکالی فریاد وکړ.

شاملو یو انقلابي او مبارز شاعر و، خو له بده مرغه اوس زمونږ په هیواد کې داسي کسان د شاملو نوم او شعر کاروي چې په خپله شاملو هغوی ته دوه پوله ارزښت نه ورکاوه، د هغوی مرګ او ژوند ورته کومه مانا نلرله او ان ویل به یې چې ښه به دا وي چې د فلان ولسمشر یا د قدرت د ښبتن په پرتوغاښ ځان په دار ووهي. عبداللطیف پدرام یو له دې بدلمنو شاعرانو څخه دی چې کله نا کله د احمد شاملو سره له دوستی خبرې کوي، خو که شاملو خبر شوی وی چې دا بدلمنه شاعر له لومړیو څخه تر ننه پورې د زبرځواکو، خاینانو، جنایتکارانو او د عبدالرشید دوستم په شان کلم جمانو له پرتوغاښ ځوړند دی، بې له ځنده یې کانګی ګولی.

شاملو، باید زمونږ د پښتو ادبیاتو لپاره بیلګه وګرځي. پښتو ادبیات لا هم په ټالونو کې زنګیږي، لا د معشوقي په سپږنو زلفو کې خمار دی، لا شنډ دی، توپان ترې نه جوړیږي، د ږلی په شان یې مصرعې نه راوریږي، قافیې او ردیفونه یې شنډ دي او په شرابو کې خیشت پراته دي، لا د «مکتبی» د زړه لاس ته راوړلو لپاره تاویزونه کوي او د

ګدایانو په شان د ننواتي کلمي  خرڅوي او د انتفاضي د ډبرو په شان پر غلیم نه راوریږي او د ناظم حکمت په وینا قلبي پسي نه تړل کیږي څو د دهقان څمکه قلبه کړي. شاملو باید د پښتو ادبیاتو لپاره بیلګه شي او ټول خوسا، شنډ او دوکمه ماره شاعران چي دا وخت په «بنډارونو» او «بهیرونو» کي د پښتو د شعر انډوخرې کوي، لکه «حمیدي» له ښت راڅوړند کړي.

 دا وخت چي زمونږ هیواد د مختلفو ستمونو لاندې ځپل کیږي او پښتون بیوزله ولس تر ټولو زیاته قرباني ورکوي، پښتو ادبیات باید د ولس تر څنګ ودریږي، د پښتو شعر باید شعار وي؛ د خپلواکی او آزادی شعار، د پښتو مصرعي باید د غلیمانو لپاره دار شي، د پښتو غزل باید بهانده سیند شي او د ستمګرو پر مانیو سیلاب جوړ کړي، پښتو شعر، اوس شنډ دی، ځکه نومیالي شاعران یي (البته د یو څو شاعراتو پرته) د یو قدرت او بل قدرت له پرتوغاښ ځوړند دي او همدا دی چي په شعرونو او نظمونو کي له پرتوغاښ خلاصولو بل پیام نشي ورکولی.

د دې لیکني په پای کي د مسلم منصوري سره د احمد شاملو د خبرو اترو څخه یوه پرتمینه ټوټه راخلم چي د دې ستر مبارز شعر د اند او فکر  ښکارندوی دی:

«دولتي یا رسمي شعر! زه نه اصلاً مشتري یم او نه هغه لولم. هغه شعر چي د رژیمونو په ورځپاڼو او رسنیو کي چاپ شي زما لپاره اصلاً شعر نه دی. بنده شنډ هنر ته دوه پوله ارزښت هم نه ورکوم. هنرمند تل په قدرت کي دی نه له قدرت سره، اوس که یو څوک غواړي چي لاړ شي د قدرت سره ووسي، پریږدې چي لاړ شي او ځان د فلاني ولسمشر د  پرتوغاښ سره په دار ووهي. اصلاً راته مهمه نه ده، نه یي ژوند او نه یي هم مرګ. وی ویل چي شهریار مړ شو، و مي ویل چي بی ځایه دنیا ته راغلی و. یو ښاغلی چي ښکلی لاس په قصیده ویلو کي لري او په کارونو کي یو څه هم ظرافت شته دی، کله چي په خپل مسوولیت نه پوهیږي، ډیر خطرناک دی. هنر چي کولای شي یو ګټور شئی ښایسته عرضه کړي او هغه ته د اغیزې لا زیات قدرت وربخښي باید له شنډتیا وشرمیږي. د هنرمند فضیلت دی چي په دې ناروغه نړی کي د درملني په لټه کي وي نه د آرامولو، د تفهیم په لټه کي وي نه د تزئین، غمخواره طبیب وي نه بی عاره دلقک.»

دا هم د احمد شاملو د یوه شعر ژباړه:

طرحه

شپی

په خونړي ګوګل

کړی کوکاری له ډیر مهاله.

سیند

ناست غلی.

یوه څانګه

د ځنګل په ترږمه کي

لمر ته کوکاری کوي.